# د ټاکنیزو حساسو موادو د ارشیف کولو او له منځه وړلو د اعتبار مودې لایحه

## مبنی او موخه

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۶۶) مادې تفویض شویو واکونو ته په پام د کمیسیون له لوري د ټاکنیزو موادو د حساسوالي مودې د تنظیم ، ارشیف کولو او له منځه وړلو په موخه وضع شوې ده.

حساس مواد

لومړی ماده:

حساس مواد هغو موادو ته ویل کېږي چې ځانګړی ارزښت ولري او حساسیت یې د مهال تابع وي. دا لاندې مواد په کې شامل دي:

1. د رای ورکوونکو د نوم ثبتولو کارول شوي او ناکارول شوي کتابونه.
2. کارول شوې او ناکارول شوې رایپاڼې.
3. د رایو د پایلو کارول شوې او ناکارول شوې اصلي فورمې.
4. د کتونکو، سیاسي ګوندونو او د نوماندانو د استازو د باورلیکونو اړوند هر ډول اسناد او د معلوماتو لرونکي مواد.
5. د نوماندانو د نوماندی اړوند اسناد.
6. د رای ورکولومهر او صندوقونه.
7. د اعتراضونو او شکایتونو بشپړې شوې فورمې او د هغو اړوند اسناد.
8. د نوماندانو د شتمنیو د ثبت فورمې.

بل هر ډول مواد چې د کمیسیون له لوري د ټاکنیزو حساسو موادو په توګه تشخیص شي.

د حساسو موادو د اعتبار موده

دویمه ماده:

1. د رای ورکوونکو د نوم ثبتولو کارول شوي کتابونه د رایو کارتونو تر معتبر ګڼلو پورې.
2. د نوم ثبتولو ناکارول شوي کتابونه تر هغه چې کمیسیون یې لازم ګڼي.

3. کارول شوي رایپاڼې او د رایو د پایلو کارول شوي اصلي فورمې.
- د ولسمشري ټاکنو اړوند رای پاڼې او د رایو د پایلو فورمې د وروستیو پایلو له اعلانولووروسته تر یو کال پورې.
- د ولسي جرګې د ټاکنو اړوند رای پاڼې او د رایو د پایلو فورمې د ولسي جرګې له یوکلنې کاري دورې پورې.
- د ولایتي شوراګانو اړوند رای پاڼې او د رایو د پایلو فورمې د ولایتي شوراګانو تر یو کلنې کاري دورې پورې.

4. د پورتنیو یادو شویو ټاکنو ناکارول شوې رای پاڼې او د رایو د پایلو فورمې د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان پورې.
5. د کتونکو، سیاسي ګوندونو او د نوماندانو د استازو د باورلیکونو اړوند اسناد د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان پورې.
6. د نوماندانو د نوماندۍ اړوند اسناد د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان پورې.
7. د رای ورکولو صندوقونه د هغو تر استهلاک او تخریب پورې او د رای ورکولو مهرونه د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان پورې.
8. د اعتراضونو او شکایتونو فورمې او اړوند اسناد د اعتراضونو او شکایتونو د وروستیو پرېکړو تر بشپړولو وروسته.
9. د نوماندانو د شتمنیو د ثبت فورمې د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان پورې.

<u>د حساسو موادو ارشیف کول</u>

دریمه ماده:

1. کمیسیون ټول یا ځینې ټاکنیز حساس مواد د اعتبار مودې له تېرېدو وروسته ارشیف کولی شي.
2. هغه ټاکنیز مواد چې د اعتبار موده یې تېره شوې، کولی شي جنساً او الکترونیک ارشیف کړي.
3. یاد مواد په ډاډمنو ځایونو کې ارشیف کېږي، څو د معلوماتو محرمیت خوندي شي.
4. د هغو ټاکنیزو حساسو موادو له منځه وړلو دمخه چې د باور موده یې تېره شوې، لږ ترلږه د هر مواد پنځه نمونې د کمیسیون د سرچینو په مرکز کې خوندي کېږي.
5. ارشیف شویو موادو څخه د ګټه اخیستنې او هغو ته د لاسرسي شرایط او د محرومیت د خوندیتوب او ډاډمن ساتلو تدابیر په اړوند طرزالعمل کې تنظیمېږي.

<u>د حساسو موادو له منځه وړل</u>

څلورمه ماده:

د حساسو موادو د اعتبار مودې له تېرېدو وروسته او یا  دا چې نور د هغو ارشیف حتمي نه وي، کمیسیون له منځه وړونکي مواد تشخیص او

تثبیتوي ، د هغو د له منځه وړلو د څرنګوالي او لارو په هکله لازم تصمیم نیسي.

<u>د راپور او تصدیق برابرول</u>

پنځمه ماده:

1. د موادو له منځه وړونکي موظفین، کمیسیون ته د موادو د له منځه وړلو د بهیر بشپړ راپور برابروي.
2. د موادو د له منځه وړلو وروسته، د تصدیق ځانګړې فورمه (له دې لایحې سره مله ده) بشپړېږي، موظفین یې تصدیق او لاسلیک کوي.

**<u>انفاذ</u>**

**شپږمه ماده:**

دا لایحه د تصویب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.